# د امیرحمزه خان شینواري  په ناول "نوې چپې" کښې د متل او محاورې د استعمال تجزیه

# Analysis of Proverbs and Idioms In Novel "Navi Chape" of Ameer Hamza Khan Shinwari

Muhammad Anwar Khan[1]

Noor ul Basar Aman[2]

*Ameer Hamza Khan Shinwari novel "Nave Chape" (نوې چپې) is a remarkable fiction piece in Pashto prose. The main theme of this novel circulating from the pivot of political problems facing this belt, main actors of political arena and possible solution to these issues. Beside this covering different colors of Pashtoon culture too. As mentioned that the novel having debates of politics and culture however the author not unaware about the taste of language. So he incorporated a lot of proverbs and idiom with such a way that like a gem in ring. In this paper these proverbs and idiom has been identified and brought here with references, in order to uncover these pearls and preserve it too.*

***Key words:*** *Novel Nave Chape, Proverbs, idioms, interpretation.*

امیرحمزه خان شینواري ( ۱۹۰۷ ـ ۱۹۹۴)د پښتو ادب په اسمان یو داسې ستورے دے چې ځومره وخت تېرېږي نو رڼا او ځلا یې لا زیاتېږي ـ د ادب عام مئینان حمزه بابا یواځې د یو کوټلي شاعر په حېث پېژني خو حقیقت دا دے چې شاعرانه عظمت یې په خپل ځائے خو د دوي نثري زیار هغه کۀ ډرامه ده، د مکتوب نګارۍ اثار دي، د سفرنامو لیکلو زیار دے، ټول په ټوله د مقدار او معیار دواړو له اړخه د وچتو فنپارو سره سیالي کوي ـ  د دې ترڅنګ د حمزه بابا یواځینے لیکلے ناول " نوې چپې" هم د حمزه بابا د قلم نه راوتې یوه شا هکار فنپاره ده، د کوم  تعارف چې حمزه بابا په دې ټکو کښې کوي ـ

> " میں نے صرف ایک ناول لکھا ہے " نوے چپے" (نئۓ موجیں) جو دسویں جماعت کے نصاب میں بھی شامل ہوگیا تھا مگر بعد میں خدا جانے کس نے اس پر مخالفانہ رپورٹ لکھ دی جسے صدر ایوب خان کی حکومت نے ضبط کرلیا۔ مگر ماضی قریب میں نیپ (NAP) حکومت نے اس پر پابندی اٹھالی ہے اور قدرت اللہ شہاب جس وقت صدر ایوب کے پی اے ہوتے تھے تو انہوں نے اس ناول میں ترمیمات کرکے مجھے پیش کیں، میں نے وہ ترمیمات منظور کرلیں

[1] Ph.D Scholar, Department of Pashto University of Malakand.
[2] Assistant Professor Department of Pashto University of Malakand.

اور امید تھی کہ ناول واگزار کرایا جائے گا مگر اس کے باوجود بھی واگزار نہ ہوا۔

اس ناول کا مرکزی تصور جناب ثمین جان خان سابق وزیر تعلیم صوبہ سرحد نے دیا تھا اور ناول بھی انہی کے نام سے منسوب ہے۔ میں نے جب ۱۹۴۴ء اس ناول کی ابتداء کی تو لکھا ہوا حصہ جاکر سناتا ، ثمین جان بے حد مسرور ہوتے"۔[1]

ژباړه: ما فقط یو ناول لیکلے دے " نوي چپې" (نوي موجونه)، کوم چې د لسم جماعت په نصاب کښې هم شامل کړے شوے وو ـ خو وروسته خداے عالم دے چې په دې چا د مخالفت رپورټ ولیکلو او د صدر ایوب خان حکومت دا ضبط کړو ـ خو په نزدې تېر وخت کښې د نیپ (NAP) حکومت د دې نه پابندي اوچته کړه او قدرت الله شهاب ځوک چې د صدرایوب پي ـ اے وو ، هغوي د څه بدلونونو سره ماته دغه ناول وړاندې کړو، کوم چې ما قبول کړل ـ امید دا وو چې ناول به واپس کړے شي خو داسې وۀ نه شوه ـ

د دې ناول مرکزي خیال ماته د صوبه سرحد پخواني د تعلیم وزیر ثمین جان خان راکړے وو او ناول هم د دوي په نوم انتساب شوے دے ـ ما چې کله په کال ۱۹۴۴ء د ناول په لیکلو لاس پورې کړو ، نو لیکلې برخه به مې دوي ته (ثمین جان خان) ته اوروله نو ثمین جان خان به بې شانه خوشحالېدۀ ـ

حمزه بابا هم دا یو ناول لیکلے دے او ځینې لیکوالان چې د دوي سفرنامه " نوے پښتون" هم یو ناول یادوي نو دا حواله د هغې رد کوي ـ دا ناول د کومې موضوع نه چاپېره چورلي کوم ډول مواد یې په خپله سینه کښې ځائے کړي دي ـ ډاکټر محمد اعظم اعظم " نوي چپې" د پښتو ناول په سفر کښې یو اهم ګام ګڼي او د دوي په خیال دا اثر د وطن د ازادئ سره سم د ستونزو تجزیه او حل وړاندې کوي ـ

"پېغله" پسې د پښتو ناول په ارتقائي لړۍ کښې د بناغلي امیر حمزه شینواري " نوې چپې" هم یو اهم مقام لري ـ دا ناول په کال ۱۹۵۷ء کښې اولیکلے شو ـ د "نوې چپې" مرکزي خیال د وطن د آزادئ نه مخکښې د هغې مسئلو سره تعلق لري، کومې چې د پښتون وګړي د سیاسي مستقبل سره اړه لري" ـ [2]

کومو لیکوالانو، څېړنکارو او نقادونه چې د دې ناول په اړه معلومات راوړي دي نو د هغوي ترمخه دا یو نظریاتي او سیاسي ناول دے ـ په دې کښې شک نشته چې دا یو سیاسي ناول دے خو د پښتون کلتور په اړه هم په دې کښې زړه پورې بحثونه شوي دي او په خصوصي توګه یې د پېښتنو د کلي والو او غرئیزو سیمو د کلتور نه په ډېر هنر سره پرده پورته کړې ده ـ د سیاست او د کلتور د دې جوتو رنګونو سره یې په دې ناول کښې د فلسفې او نفسیاتو خواړه هم ګډ کړي دي ـ خو د خوند خبره دا ده چې تر ډېره حده دا سپور موضوعات او مباحث حمزه بابا په داسې خوږه، کلي واله او عام فهمه ژبه کښې وړاندې کړي دي

چې د خپل فکر د غمو پاشلو سره يې د پښتو بلها متلونه او محاورې هم په دې کښې ځائے کړې دي ـ د "نوې چپې" ناول نه د متلونو او محاورو د چاڼ نه د مخې وړومبے د دې تعريفونه راوړو ـ

> " متل په هغه ژبه کښې زيات وي چې کومه د ارتقاء د ډېرو منزلونو نه راتېره شوي وي او په لوړو پوړو ختلې وي ـ دا په لنډو ټکو کښې د ژبه ويونکو د اوږدې تجربې او ژورې څارنې عکاسي کوي ـ په متل کښې يوه اوږده پېښه، قېصه يا خبره په داسي هنر راغونډه کړے شوي وي،چې د چا د پوهولو له پاره يو بشپړ جهان لري ـ ځکه خو پوهه، جرګه مار او خله ور پښتانهٔ په خپلو خبرو کښې د متلونو خوارهٔ خامخا ګډوي ـ متل د کوم چا تخٰليق نهٔ وي بلکې د اولسي ادب يو شاهکار وي او د هر چا وي" ـ[3]

کله چې د يوې ژبې د معيار په ټاکلوخبره وي نو په دې لړ کښې د نورو خصوصيتونو سره سره د متل ارزښت هم په پام کښې وي ـ

> " متل هغه مکالمه وي چې د دانائۍ يو مخصوص رنګ لري، د کاني د کرښې په شان يوه پخه خبره وي ـ د يو مخصوص حالت د مختصر تشريح خاصيت او خصوصيت لري ـ[4]

- د متل قسمونه:

ترڅو چې د متل د جوړښت په بنه تعلق دے نو په دې لحاظ د متل دوه قسمونه منثور او منظوم دي ـ منثور هغه چې د نظم په شان د وزن، بحر ـ قافيې، رديف وغيره پابندي نهٔ لري ـ لکه د انسان عزت په خپل لاس کښې دے، ګوړه ګوړه وايه خلهٔ به دې خوږه شي وغيره ـ خو دويم قسم يعني منظوم د مقصديت سره سره د نظم بنه او خوند هم لري لکه خيراړې د يو ‌ډز سره لاړې وغيره ـ

- د معنې او موضوع په لحاظ قسمونه:

د معنې او موضوع په لحاظ د متل درې اقسام دي چې يو په هغې کښې ساده متل وي لکه د مثال په توګه " د چرګې د مالګې د څټلو سره څه کار دے"، دويم واقعاتي متل وي چې په شا يې کومه واقعه يا پېښه وي او د هغې په غبرګون کښې په وجود کښې راغلے وي، مثلاً " الله دې پرې مټ د شيرعلي کړه" او دريم د متل د هغه قسم وي چې فخش وي او عام اولس يې نهٔ خوښوي او په زوق سليم هم بوج کېږي ـ

❖ د حمزه بابا په ناول " نوې چپې" کښې متلونه:

دا خو د متل په لنډه پېژندګلو وه او ترڅنګ د دې د قسمونو په حواله بحث وو، اوس د ناول " نوې چپې" نه متلونه د حوالې او ضرورت ترمخه د وضاحت سره راوړو ـ

۱ ـ چې څنګه ګټه وي هغه شان يې کېربوړے وي ـ

د دې مطلب دا وي چې هر شے او ځوک د خپل ماحول، موسم، جغرافيه، اقتصادي حالت په رنګ کښې رنګ وي ـ په ځينو سيمو کښې د کټي په ځائے تړه هم راوړلے شي ـ د دې متل يو بل شکل په دا ډول دے " چې ځنګه يې ژے وي، هغه شان يې مے وي" ـ په " نوې چپې" ناول کښې دا متل په دې شان سره ذکر دے ـ

" اسلم خان: " ـ ـ ـ ـ ـ متل دے" چې ځنګه تړه هغسې کپربوړے" اؤ ته دې، دې خپلو پيشني جامو ته اوکسۀ کنه، يې د غره شدله اپريدی او پېښې د ميمانو کوې" ـ [5]

۲ ـ کۀ کور کران دے خو د مړي ناکام دے ـ

دا متل په هغه ځائے کښې وئيلے شي چې يو کران او سخت کار د کولو نه علاوه بله چاره نۀ وي نو کۀ يو ځوک غواړي او کنه خو خامخا ورته يو بوج اوچتول وريغاړه وي ـ حمزه بابا په خپل ناول کښې، دا متل په دې ډول سره راوړے دے ـ

" اکبرخان: " د سليم فلسفيانه نظرئيے به ځوک سر ته ورسوي ؟ خو ځه به خوامخواه ځم ـ کۀ کور کران دے د مړي ناکام دے" ـ [6]

۳ ـ د مار مور هم ماره وي ـ

په دې حواله ډېر متلونه او وېناګاني مقبول دي ـ د دې مطلب دا چې ځوک باکردار، نېک او د خېرښېګړې ښښتن وي نو د هغه مور پلار هم خلک په ښه سره يادوي ـ دغه شان کۀ ځوک د بدخوي خصلت مالک او بدکرداره وي نو د هغۀ کورنی هم په ټولنه کښې په بده يادولے شي ـ د " نوې چپې" نه د دې حواله په دا رنګ ده ـ

کله چې د عظيم خان کور وداني د سليم او ګلرخ د ولجه کولو نه پس د اکبرخان کور ته راشي نو سليم يې راتلل بد نۀ ګڼي خو د اکبرخان داسې وي ـ

سليم: " په دې کښې حرج څۀ دے؟ اؤ بيا هغې غريبې خو زمونږ په سر وهل هم خوړلي دي" ـ

اکبرخان : " د مار مور هم ماره وي" ـ [7]

۴ ـ د چرګ د مالګې د ښتلو سره څۀ کار دے؟ ـ

دا متل په هغه وخت وئيل کيږي چې کله ځوک د يو کار اهليت، صلاحيت يا طاقت نۀ لري او خامخا يې کول غواړي، نو ظاهره ده چې د ناکامی سره به مخ کيږي نو بيا خلک وائي " چې د چرګ د مالګې د ښتلو سره څۀ کار دے؟ که د دې متل په معنا غور اوشي نو حقيقت هم دادے چې د چرګ مښوکه د مالګې د ښتلو لپاره ښېخي مناسب نۀ ده ـ په ناول " نوې چپې" کښې په دا ډول دے ـ کله چې يو کردار صفيه د د بل کردار محبوبې په حواله دا اظهار وکړي چې په کرۀ وړۀ کښې يې د د مغرب د پېشن نخښې نخښاني دي

او به بیا د دغه کردار یعني محبوبې نه نظر د هغې په باب له نظر وغواړي نو هغې جواب د متل په خوږو لړلے داسې وي ۔

" صفیه: " ګلرخ خورې ، ته په خپله د مغربي فېشن نه بې خبره یې ځکه د محبوبې په کړۀ وړۀ کښې د مغربي فېشن علامې نۀ شي لیدے ۔ خو څه یې ګورم ، ولې محبوبې؟

محبوبه : " بې بې زه ستاسو په خبرو نۀ پوهېږم چې دا مغربي تازیب لا څۀ بلا ته وایې ۔ وئیلے شي چې چرګه د مالکې په خټلو څۀ پوهېږي؟" ۔ [8]

۵ ۔ غر په غر نۀ ورځي خو سړې په سړي ورځي:

د دې مفهوم په دا ډول دے چې غر خو په ځائے ولاړ وي او کوم امکان نۀ لري چې بل غرله ورشي خو چې انسان/ سړے ژوندے وي نو یو نه یو وخت به خامخا یو چا ته ودربږي ۔ مطلب دا چې د چا سره داسې رویه کول یا تعلق ته اخري پاتکے اېښودل نۀ وي پکار، چې د سترګو لګولو هډو امکان پاتې نۀ شي ۔ ځکه چې دا ورځې شپې راګرځي او ارو مرو په یو نه یو شکل د ژوند په یو موړ هر چاته اړتیا پېښېږي ۔ دا متل " نوې چپې" په دا ډول راوړي ۔

" عظیم خان: " ایما د دې وېرکي سره شل کاله تېر شوي دي د اکبرخان نامه یې هم نۀ دي اخېستې ۔ نن یې اکبرخان څرنګه اشنا شو؟ او دا وېرکے د تولې کوکي مېلمه څرنګه شو؟"

شیر احمد: " عظیم خانه اورېدلي به دې وي چې غر په غر نۀ ورځي خو سړې په سړي ورځي ۔ اکبرخان او دا ویرکي د وړوکولي اشنایان دي" ۔ [9]

۶ ۔ اس مې د باچا کره وتړئ:

دا متل په هغه موقع وئیلے شي چې کله څوک د کمزورې حېثیت وي او دعوې غټې کوي ۔ دا په عامه توګه په دې ډول راوړلے شي چې " د یو سړي کده چا په کلي کښې نۀ پرېښوده او وئیل چې اس مې د باچا کره وتړئ" په " نوې چپې" ناول کښې په دې توګه ځائے شوے دے ۔

" یاربادشاه: " هو کنه! یار باچا به دې اوده کړې، د شا هجهان بادشاه زوې دې ۔ دا هغه خبره شوه چې چا کور ته نۀ پرېښود، هغه وئیل چې اس مې د باچا کره وتړئ ۔ زه د سره هډو قیصه وایم نۀ" [10]

۷ ۔ ښځې لا یا کور دے او یا ګور دے ۔

هسې خو د پښتنو په روایتي تولنه کښې ښځې د سړو سره څنګ په څنګ په پټو کښې د زمیدارۍ کار، هم دا رنګه په ځینو سیمو کښې د غرونو نه خشاک راوړل، د دې نه علاوه د چینو یا د کوهیانو نه اوبۀ راوړلوکارونه کوي خو پښتانۀ بیا هم د ښځو د دا ډول ازادۍ منونکي نۀ دي پاتې شوي چې ګنې هغوي دې

په خپله مرضۍ د کور نه بهر وګرځي، هم په دې تناظر کښې دا متل راوړے شي ـ حمزه بابا دا متل په خپل ناول " نوې چپې" کښې په دا ډول راوړے دے ـ

" حلیمه: " شاباشې بچې، چې پرۀ دې نۀ کړي ـ ښځې د پاره لا کور دے ، لا ګور ـ اؤ آهن بچې، داسې ورته وبلې نۀ وائي چې خدائے هم په پرده کښې دے" ـ [11]

۸ ـ ښځه د کوټې ساه ده ـ

په بره متل کښې د ښځې د پاره د کور نه د مخې په کور کښې د پاتې کېدو خبره شوې ده اوحقیقت هم دا دے چې د پښتنو کورونه په ښځو اباد دي ـ لکه څنګه چې حمزه بابا په کور کښې د دوي د ارزښت په حقله دا متل راوړے دے ـ

" یوسف خان: " تاسو ماته حېران حېران ولې ګورئ؟ ډېره موده کېږي څما ښځه مړه شوې ده ـ خو څما تراوسه دویم وادۀ ته خیال نۀ وو ـ خو آخر زه پوهه شوم چې ښځه د کوټې ساه ده، څما کور په نۀ کور حساب وو ـ دا ننے انتظام مې هم په خدمتګارو کړے دے ـ تاسو به حېران شئ خو په دې کښې د حېرانی هېڅ نشته ـ څما دا ننۍ مېلمستیا، څما د وادۀ په مېلمستیا کښې منظوره کړئ ـ [12]

۹ ـ څۀ به چتے وي او څۀ به د چتي ښوروا وي:

چتے یوه ډېره وړه مرغۍ ده چې عموماً د سپرلي په موسم کښې راپیدا شي، د پلوڅو او شوؤ په ونوکښې ډېر زیات وي اوپه دغو کښې واړه واړه چینجي خوري ـ د دې مطلب دا دے چې په چتي کښې څۀ غوښه نۀ وي چې دهغې نه ښوروا وشي ـ دا متل په داسې وخت کښې وئیل شي چې د یو چا نه هډو د کوم کارکولو امید نۀ شي کېدے ـ په "نوې چپې" کښې داسې ذکر شوے دے ـ

" رفیق: " هغه خو د دې خلمو رهمنا دے اؤ په دې معامله کښې ډېر ځلانده خیالات لري ، خو د استاذې! ستا خپل خیالات څۀ دي؟"

جمیله:" ما؟ څه به څۀ یم اؤ څما خیال بۀ څه وي، هغه د چا خبره چې څۀ چتے او څۀ د چتي ښوروا ـ "[13]

۱۰ ـ د سلو بللو ځائے کېږي او د یو نابللي نۀ کېږي:

پښتانۀ حتی الوسع کوشش کوي چې په کوم وادۀ، خېرات کښې بې بلنې مېلمانۀ نۀ شي او د دې په حواله یو دا خبره هم مشهوره ده چې نابللے لوړ وي یعنې د هر چا په نظر کښې راځي ـ هم په داسې تناظر کښې دې متل وجود بیاموندلے دے ـ په " نوې چپې" کښې په دې ډول راغلے دے ـ

" جمیله: " زه د دې خبرې قائله نۀ یم چې مان نه مان میں تیرا مہماں" ـ

رفیق: " دلته به درته د پښتو څه متل نۀ وو یاد نو" ـ

جمیله: " مونږ دلته د اردو په وجه نزدې نزدې پښتو هېره کړې ده ـ

رفیق: دلته دې داسې وئیلے شول چې د سلو بللپو ځائے کېږي خو د یو نابللي نۀ کېږي" ـ [14]

❖ د حمزه بابا " نوې چپې" او محاوره:

د حمزه بابا د ناول " نوې چپې" نه د محاورو د چوڼ کولو پرته، د محاورې لنډه پېژندګلو او تعریف کوؤ ـ د اردو لغت "فیروزالغات اردو جدید" کښې محاوره په دې ډول تعریف شوې ده ـ

" (۲) وہ کلمہ یا کلام جسے اہل زبان نے لغوی معنی کی مناسبت یا غیر مناسبت سے کسی خاص مفہوم کے لیے مخصوص کرلیاہو"[15]

ژباړه: هغه کلیمه یا کلام چې اهل زبان د لغوي معنې په مناسبت یا په غېر مناسبت د کوم خاص مفهوم لپاره خاص کړے وي ـ

پروفیسر انور جمال په خپل تصنیف "ادبي اصطلاحات" کښې په محاوره تفصیلي رڼا اچولې ده ـ لیکي:

"لفظ جب اپنے لغوی اور حقیقی معنوں کے بجائے غیرلغوی اور مجازی معنوں میں استعمال ہو یا استعارہ ہوگا ، یا مجازِ مرسل یا محاورہ۔ استعارے کے حقیقی اور غیر حقیقی معنوں کے درمیان "تشبیہ" رابطے کاکام دیتی ہے۔ مجازمرسل کے حقیقی اور غیر حقیقی معنوں کے درمیان تشبیہ کے علاوہ کوئی چیز رابطہ بنتی ہے ، جب کہ محاورے کے حقیقی اور غیر حقیقی معنوں کے درمیان کوئی چیز رابطے کاکام نہیں دیتی ، چنانچہ "محاورہ دو یا دو سے زیادہ الفاظ کا ایسا مجموعہ ہے جو مجازی معنوں میں استعمال ہوتا ہے اور اہلِ زبان کی گفتگو کے مطابق ہوتی ہے"[16]

ژباړه: تکے چې کله د خپلې لغوي او حقيقي معنو په ځائے په غېر لغوي يا مجازي معنو کښې وکارول شي نو دا به يا استعاره وي، يا مجاز مرسل او يا محاوره ـ د استعارې د حقيقي او غېر حقيقي معنو په مېنځ کښې تشبيه د رابطې کار ورکوي ـ د مجاز مرسل د حقيقي او غېر حقيقي معنو په مېنځ کښې د تشبيه نه علاوه کوم بل شے د طماس ذريعه جوړېږي، خو د محاورې د حقيقي او غېر حقيقي په مېنځ کښې د بل څه رابطه نۀ وي، ځکه نو " محاوره د دوه يا د دوو نه زيات تکو داسې مجموعه وي چې په مجازي معنو کښې کارول شي او د اهل زبان د خبرو اترو مطابق وي" ـ

## ۱ ـ لاس ورپورې تودول:

په چا پسې د لاس تودول يعنې حرارت اخستل، د دې اصطلاحي معنا دا ده چې د يو چا د علمي استعداد، مالي حيثيت، جسماني قوت يا تولنيز مقام وغيره په بنياد د هغه نه د ژوند په ز غل کښې کټه پورته کول يا کومه اسانې لاس ته راوړل ـ په ناول " نوې چپې" کښې دا محاوره په داډول خوندې دې ـ

" سليم : " عزير خو نامې خدا الوځې" ـ

عظيم خان: " خان! دا په مونږ ټولو ورونو کښې چابک اؤ د توری سړے دے ـ چې رښتيا درته اوويم نومونږ لاس هم په دۀ پورې تودوؤ" [17]

## ۲ ـ للو پتو کول:

للو پتو کول هم يوه محاوره ده کومه چې د حقيقي معنو په ځائے په مجازي معنو کښې کارول کېږي ـ د دې نه چې کوم مطلب اخستل کېږي،بندوبست کول، انتظام کول، کار روانول وغيره دي ـ په " نوې چپې" ناول کښې داسې راوړل شوے دے ـ

" عظيم خان: " ترپ کړۀ کنه وروره، کلي ته مخکښې ځان اورسوه ـ مور ته دې اووايه چې خان راغے، چې څه للو پتو خو وکړي " ـ بيا ئې په خندا ووئيل " نن دې بخت وېښ شوے دے چې بادار مو مېلمۀ دے" ـ[18]

## ۳ ـ ګور ګردن:

ګور معنا ده قبر او ګردن معنا ده څټ، نو لغوي معنا يې داسې شوه چې قبر او څټ ـ خو په اصطلاحي توګه د دې مطلب په دا ډول دے چې خپله ذمه واري په خپله اخستل ، د خپل ذهن مطابق کار کول ـ " نوې چپې" يې دا محاوره داسې راوړې ده ـ

" د پښتنو خانان او ملکان دومره دور انديش نۀ دي چې هغوي د نوکرانو تربيت هم ضروري اوګڼي ـ د هغوي د نوکرانو کار خدمت سره غرض وي اؤ هغه ورته نوکران کوي ـ نور د نوکرو ګورګردن خپل وي" [19]

## ۴ ـ سترګې برابرول:

سترګي برابرول يوه عامه محاوره ده ـ د دې مطلب دا دے چې د چا سره نظر لګېدل، يو بل ته کتل، ناڅاپه د يو بل ديدن کول وغيره ـ په "نوې چپې" کښې حمزه بابا داسې ځائے کړې ده ـ

" سليمه کۀ هغه چيتی ليکې چې زه پېښور ته يو سړے تيار کړم" ـ

سيد خان په ځېر ځېر سليم ته اوکتل ـ سليم د سيد خان په مطلب پوهه وو ـ هغه هېو د سيد خان سره سترګې برابرې نۀ کړې" ـ [20]

## ۵ ـ سترګې خوږېدل:

د سترګو خوږېدلو محاوره هم عامه ده او په عامه توګه په شعر کښې راوړلے شي ـ د دې نه په دوه ډوله معنې اخستے شي ، يو په چا سترګې خوږېدل يعنې ځوک خوښېدل يا پېژندل او بل سترګې خوږېدل يعنې خوب راتلل ـ د حمزه بابا په " نوې چپې" کښې دا محاوره د خوب راتللو په معنا کښې راوړل شوې ده ـ

" يار بادشاه بيا په قيصه ګوتې پورې کړې او چې ترڅو ئې خلاصه کړې نۀ وۀ، سليم وېښ وو ـ څو ساعت پس ئې په فکرفکر کښې سترګې خوږې شوې او په سترې خوب اودۀ شو ـ [21]

## ۶ـ پوزه پرېکول:

لکه څنګه چې د محاورې تعريف اوشو چې دا دوه يا د دوو نه زيات ټکي وي او د حقيقي په ځائے په مجازي معنو کښې مستعمل کېږي ـ دويمه دا اهمه نکته چې د اهل زبان د خبرو اترو مطابق وي لکه د مثال په توګه " د چا ملاسته غوا نۀ پاسول" د دې مطلب د هيچا هم نقصان نۀ کول، خو کۀ اوس مونږ داسې ووايو چې " د هيچا ګډه هم نۀ پاسول" نو به دا اهل زبان د خبرو اترو موافق نۀ وي ـ " پوزه پرېکول" د محاورې په چوکاټ شرمولو، بې عزته کولو وغيره ته وائي ـ " نوې چپې" دا محاوره په دې ډول راوړې چې کله يو کردار عظيم خان ته ووائي:

"سمې خبرې کوه، د ټول اپريدي پوزه دې لره پرېکړه چې اوس په کوکي خېل کښې هم پائېلات جوړوے ـ داسې ولچې ځوک نۀ شي کولے،هر سړې يار اشنا لري خو خلک سترګې غړوي" ـ [22]

## ۷ـ د دوۀ کنجکو کېدل:

کنجکې چې په عامه توګه د سينګار په غرض د ماشومانو په ټوپو پورې ګنډلے شي، د پلاسټک نه جوړ يو سينګار توکے وي ـ ډېر قيمتي نۀ وي ځکه نو چې ځوک وائي چې فلانے سړے سپک شو نو داسې وائي چې عزت ئې د دوۀ کنجکو شو ـ په "نوې چپې" کښې يې مثال داسې دے چې کله د ولجه کوونکي عظيم خان ښځه يو بل ښځينه کردار ګلبدن ته ووائي ـ

" اوشوه ملکي! کور دې ودان او بچي دې په ستر، زما عزت خو هغه د دوؤ کنجکو کړو ۔ په خونه مې د بې عزتۍ دارېنځ وګرزېدۀ" ۔ [23]

۸۔ کور جارو کېدل:

په دریمه حواله کښې يو تورے راغلے دے چې په خونه يعني کور مې د بې عزتۍ دارېنځ وګرځېده، چې بل ځاے په خپله معروفه نامه کښې راوړل شوے يعني "جاروکېدل" راوړل شوے دے ۔ د عزت په خونه د جارو ګرځيدو مطلب دا شو چې هېڅ عزت مو پاتي نۀ شو او لېلام شو ۔ [24]

۹ ۔ په تلي کښې شړشم زرغونول:

په تلي کښې شړشم زرغونول هم محاوره ده او د دې ټکو استعمال په غېرحقيقي معنو کښې کېږي چې مطلب يې يو کار دومره زر کول غوښتل دي چې هغه په هومره وخت کښې هېڅ ممکن نۀ وي ۔ په " نوې چپې" کښې داسې راوړل شوې ده ۔ [25]

" اکبرخان: " مطلب مې دا دے چې مړی زر تياره شي ۔

صفيه: " دومره زر خو ګرانه ده ، په تلي کښې شړشم څوک زرغونولے شي" ۔

۱۰۔ نمک خوړل:

نمک يعني مالګه خوړل، د دې مطلب دا وي چې څوک د چا رزق وخوري نو بيا د هغه کور د عزت، سلامتيا ډېر خيال ساتي او ترخپله وسه هڅه کوي چې د دغه کورنۍ د بدو نه ځان وژغوري ۔ يعني چې پښتون د چا کره مېلمه پاتي شي، نو د هغوي سره لکه د خپلو يا عزيزانو په شان تعلق ساتي، سپکه يې هم نۀ وائي او راز يې هم ساتي ۔ په پښتنۀ ازاده قبائلي سيمو کښې پخوا داسې هم شوي ده چې چا دلته پناه اخستې نو بيا دغه پناه او تک راتګ په پخه دوستۍ بدل شوے دے ۔ " نوې چپې" دا محاوره په دې ډول راوړي ۔

" ګلبدنه: " ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ بنه ده وړې بي بي ب لا دې واخلم زه خو اوس ځم، خو ستاسو دې څوګند وي چې عظيم خان ته ښېرې ازار اونۀ کړې، ستاسو نمک يې خوړلې دې" ۔ [26]

۱۱۔ کوټ بنګار۔

پښتو اکېډمي لغت د کوټ او بنګار معنې په دې ډول سره کوي ۔

" کوټ ۔ چې د مختلفو دهاتونو په يو ځاے کولو جوړ ولے شي ۔

____ بنګار: مخلوط دات، مجازاً ګډون والا ادنٰی دات ۔ [27]

کله چې دا دواړه ټکي کوټ او بنګار رايو شي نو خپلو کښې يو ترکيب جوړ کړي چې معنا يې شي د دهاتونو نه جوړ شوے څېز خو کله چې د دې استعمال د محاورې په بڼه کېږي نو مطلب ئې سخت، کلک وغيره وي ـ د حمزه بابا په " نوې چپې" کښې داسې مستعمل دے چې کله يو کردار عظيم خان خپل يو کشر ته غږ کړي چې ملاتړ او ټوپکې تيارې کړي، هسې نۀ چې اکبرخان (يو بل کردار) مو په کلي رانشي نو دغه کشر نور کليم داسې جواب ورکوي ـ

نورکليم: " زه به لاړ شم خو دا څه تالا خونه خو نۀ ده ـ اکبرخان ګولی نۀ
غوښوي څۀ؟ د کوټو بنګارو نه خو به نۀ وي جوړ" ـ [28]

د دې مشت نمونه خروانه متلونو او محاورو نه پس مونږ په دې نتيجه رسو چې "نوې چپې" د يو داسې کوټلي ليکوال يعنې حمزه بابا فنپاره ده چې په نظم او نثر دواړه يې د نورو بلها خوبيو سره د ژبې په محاسنو سره ماړه او پېټ دي ـ د ښاغلي ليکوال په ژبني ښکلاګانو لکه متل، محاورې، ترکيبونو، اولسي ټکو په کارولو وغيره ښه لاس بردے ـ په يو څو پانو کښې د حمزه بابا د ناول " نوې چپې" د متلونو او محارو احاطه ګرانه ده، خو دا زيار د دغه اثر دې اړخ ته د پام راګرځولو يوه هڅه ده ـ او دا مونږ ته دا خبره په ډاګه کوي چې متل او محاوره په ليک کښې د استعمال سره ګڼې خوبۍ پيدا کوي ـ

## حوالې

1 ـ خاطر غزنوی، داستان امیرحمزه، منظور عام پریس پشاور، سال اشاعت ۱۹۹۶ء، صفحہ۹۳

2 - اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردار نګاري، ملت پرنټرز لاهور، کال ۱۹۹۳ء، مخ ۳۰۶
3 - انور نګار، باجوړ: تاریخ، کلتور او ادب، آرټ پوآئنټ پېښور، کال ۲۰۲۲ء، مخ ۲۲۱
4 - طائر، نواز، محمد، تهامس سي - ایډروډز، "روهي متلونه" پین ګرافکس اسلام اباد، کال ۲۰۰۷، دویم چاپ، مخ x , x1
5- امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، نصرت پرنټنګ پریس لاهور، کال ۱۹۹۳ء(دویم چاپ)،م۱۱۶،۱۱۷
6 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، )،مخ ۲۷۲
7 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۹۲
8 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۱۲۱
9 - - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۴۲
10 -- امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۳۴
11 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۲۱۰
12 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې مخ ۳۹۴،۳۹۵
13 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۳۳۸
14 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۳۴۴
15 - "فیروزالغات اردو جدید، صفحه ۶۲۰
16 - انور جمال، پروفیسر، ادبی اصطلاحات، نیلاب پرنٹرز، راولپنڈی، ۲۰۱۹ء،صفحه ۱۵۸،۱۵۹
17 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ،مخ ۸
18 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ،مخ ۸
19 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ،مخ ۲۱
20 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ،مخ ۳۹
21 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ،۳۵
22 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، مخ ۴۲،۴۳
23 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ، ،مخ ۹۷
24 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ،مخ ۹۷
25 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې مخ ۱۳۴
26 - امیر حمزه خان شینواري ، نوې چپې ،مخ ۹۷
27 - پښتو اکېډمي لغت، فاسټ ټیک کمیونیکېشن پېښور، کال ۲۰۱۹ء، مخ ۱۴۳۸
28 - امیر حمزه خان شینواري، نوې چپې، مخ ۴۴،۴۵

Pukhtunkhwa Journal